**۲-۳- تاسی تر اوسه پورې د ۱۵ میاشتو راهیسې، مگر د ۴ کلونو څخه لږ وخت په جرمنی کښې یاست.**

دلته ټول څه، لکه د مخکنی حالت سره سم، پاته کیږی. (۲،۲ نمبر وگورئ)

مگر: د اتحادی آلمان د دولت نمایندگی د کار په خاطر، نور نه آزمائی، چه گوندی نور کسان به هم ددی کار د پاره، مستحق وی (رجحان او تقدم آزموینه). پدی ډول د مشغولیت او کار د اجازی تر لاسه کولو ته چانس زیاتیږی.

**۲-۴- تاسی اوس څلور کاله کیږی چه جرمنی کښی اوسیږئ.**

اوس اجازه لری چه کار وکړی، بیله دی څخه چه د اتحادی آلمان د دولت نمایندگی، د کار د پاره، د مخه څیړنه وکړی. مگر مجبور یاست چه بیا هم، د خارجیانو د پاره د دولت دفتر ته ورسی، چه د استوگنی (اقامت) د اجازی په څنگ کښی ضمیمه اجازه "مشغولیت اجازه لری" ثبت سی. بیله دی څخه د کار اجازه نلری. ددی لیکنی په موجودیت سره، هر کار یا تعلیم پر مخ بیولای سی.

لیکن تاسی تر هغی مودی پورې چه د اقامت اجازه لری، نسی کولای چه دمستقل یا آزاد شغل(معمله گر) په توگه فعالیت وکړی.، بلکه هر وخت یو کار فرما (کار ورکوونکی) ته ضرورت لری، چه تاسی په کار وگماری.

**۳. د تر کومو شرطونو لاندی کولای سی چه د مشغولیت اجازه د یوه کسب د زدکړی د پاره د کوم تولیدی کارگاه د پاره، تر لاسه کړی؟**

که چیری لا تر اوسه پورې مو په جرمنی کښی دری میاشتی اوسیدل نه وی پوره سوی، نسی کولای چه د کسب زدکړی، په هیڅ کوم تولیدی کارگاه کښی، په مخ یوسی.

که تر اوسه پورې مو، دری میاشتی په جرمنی کښی تیری کړی وی، د خارجیانو د پاره د دولت مأموران، د یوه مشغولیت اجازه د ور نکړی د کوم کسب د زدکړی د پاره په کوم تولیدی کارگاه (دستگاه) کښی درکوی.، پرته له دی چه، کومه څیړنه د اتحادی آلمان د دولت نمایندگی د کار په خاطر صورت و مومی

د قاعدی سره سم د خارجیانو د پاره د دولتی دفتر مأمورانو دا غوښتن لیک، د اتحادی آلمان د دولت د کار نمایندگی ته لیږی. دوی بیا د لاندنی مطالبو څیړنه کوی:

**آ - د تفوق او ترجیح ازموینه:**

دلته روښانه کیږی، چه آیا بل کوم څوک، د کار غوښتونکی/ غوښتونکې (آلمانی یا خارجی (ښځئ او نارینه)، چه هر چیری د کار حق لری) د همدی کار د پاره، چه تاسی موندلی هم غواړی او ددی کار وړ دی او که نه؟

پاملرنه: که چیری تحصیل مو کړی وی او یا د کوم شغل د زدکړی دوره خلاصه سوی وی او د تعلیم او د تحصیل ختم، په جرمنی کښی، په رسمی توگه پیژندل سوی وی، نو ددی ډول آزموینی ته احتیاجات نسته.

**ب - د کار د شرطونو آزموینه:**

په دی لړ کښی روښانه کیږی چه، آیا د هغه کار چه تاسو ته وړاندی سوی، ټول قانونی شرطونه او مقررات ( د مثال په توگه د کار وخت) په نظر کښی نیول کیږی او هم دا رنگه آیا، هغه مزد چه تاسی ته درکول کیږی د ټاکل سوی مزد سره برابر ده.

**ث - د کرایی کار منع:**

دا څیړنه هم کیږی چه آیا ستاسی د کار ځای "کرایی" دی. د "کرایی کار" اجازه لا تر اوسه پوری نلری.

ددغی آزموینو دپاره د اتحادی آلمان د دولت د کار نمایندگی دوی اونی وخت په کار لری. کله چه د اتحادی آلمان د دولت د کار نمایندگی، موافقت ولری او یا ځواب ور نکړی (!)، د خارجیانو د پاره د دولتی دفتر مقام، تاسی ته د همدی کار ځای ته، د مشغولیدو اجازه درکوی. پدی باندی هم پام وکړی، دا امر ستاسی د استوگنی پر اجازه باند، د خارجیانو د پاره، د دولتی دفتر اثر لری، او انتقالیږی.

**۱ - د هغو پناه غوښتونکو د پاره معلومات چه د اقامت داجازی پاڼه لری.**

**۱ - د څه د پاره د کار او مشغولیت ته اړتیا لری؟**

- دهر غیر مستقل کار د پاره ، د کار به اړیکو کښی.
- د یوه کسب د زدکړی په دستگاه کښی
- دهر عملی کار د تطبیق د پاره

**۲- څنگه او کله تاسی د کار اجازه تر لاسه کولای سی؟**

**۲-۱- تر اوسه پوری، ستاسی دری میاشتی، په جرمنی کښی ندی پوره سوی:**

**په همدی موده کښی ، ستاسی کار منع ده. دا ستاسی د استوگنی پاڼی کښی لیکل سوی وجود لری :**

**"د کار اجازه نسته"**

**۲-۲- تاسی د درو میاشتو را پدی خوا، مگر تر ۱۵ میاشتو کم، په جرمنی کښی یاست.**

**په دی موده کښی د کار اجازه لری او کولای سی چه د مشغولیت اجازه تر لاسه کړی. ستاسی د استوگنی د اجازی پر پاڼی په دغه وخت کښی لیکل سوی :**

**" مشغولیت د خارجیانو د پاره د دولتی دفتر به امر اجازه ده."**

**دا باید د ځینی مخکنی ټاکل سوی شرطونو سره سم وی.**

**څه باید وسی؟**

**لمری باید کار ورکوونکی ومومندل سی، چه وغواړی تاسی په کار وگماری. وروسته له هغی څخه د خارجیانو د دولتی دفتر څخه د مشغولیت د اجازی غوښتنه وکړی.**

xenos
Arbeitsmarktliche Unterstützung für Bleibeberechtigte und Flüchtlinge

# لمړنی معلومات د پناه غوښتونکو او مهاجرینو د پاره د کار په بازار کښی د داخلیدو په باب

# څه وخت د مشغولیت

Bitte geben Sie hier Ihre Kontaktdaten ein

Bundesministerium für Arbeit und Soziales

ESF Europäischer Sozialfonds für Deutschland

Europäische Union

Gefördert durch Mittel des: ESF-Bundesprogramms zur arbeitsmarktlichen Unterstützung für Bleibeberechtigte und Flüchtlinge mit Zugang zum Arbeitsmarkt II durch das Bundesministerium für Arbeit und Soziales und den Europäischen Sozialfonds.

Stand: 15.05.2015 / pashtu

## اا - لمړنی معلومات د تحمل وړ مهاجرو د پاره

**ستاسی د پاره، مساوی قاعده لکه د پناه غوښتونکو په شان، د یو اقامت د اجازه (ا وګوری) د دوو استثنایی حالت په فرق سره صدق کوی.۱**

### ۱ - د کار منع:

د خارجیانو د پاره د دولتی اداری مأموران، تاسی ته، هیڅ یو د مشغولیت اجازه نه درکوی، که چیری په دی نظر وی، چه

- تاسی د خپل د خارجیدنی مانع ګرځی، د مثال په توګه، غلط هویت یا د دولتی تابعیت نوم، ورکوی، او یا د ځان د پاره د سفر پاسپورت او د پاسپورت پر ځای د سفر پاڼه نه تر لاسه کوی. یعنی د مثال په توګه خپل د ملک سفارت ته مراجعه نه کوی.
- تاسی جرمنی ته یواځی ددی دپاره داخل سوی یاست، چه پولی او مالی بسپنه د جرمنی د دولت څخه تر لاسه کړی.

ستاسی پر تحمل پاڼی باندی لیکل سوی:

” د شغل د پر مخ بیول اجازه نسته“

که چیری غواړی و آزمویی، چه آیا دا ستاسی په باب صحیح تصمیم نیول سوی، او تاسی یو کار موندلی، چه غواړی ولری، باید یوی مشورتی ځای ته مراجعه وکړی. تر څو چه دغه دکار احتمالی منع کیدنه، رفع سی،

### ۲ - د کسب زدکړی په یوه تولیدی کارګاه کښی:

**د تحمل د فیصلی په صورت کښی، له لمړی مرحلی څخه، د مشغولیت اجازه د کسب د زدکړی د پاره په یوه تولیدی کار ځای کښی تر لاسه کوی، تاسی باید وروسته تر داخلیدو، دری میاشتی انتظار و نه باسی.**

## ااا- لمړنی معلومات د اقامت د اجازی لرونکو مهاجرو ته.

**که چیری د اقامت اجازه ولری، ستاسی پر ”چپ کارت“ باندی لیکل سوی، چه د کومو مقرراتو پر اساس، او ولی د کار اجازه درکړ سوی.**

**۱ - داقامت اجازه د ۲۲ماده، جمله ۲، د ۲۳ ماده، ۲ فقره، د ۲۵ ماده فقرات ۱ او ۲ د اقامت د قانون د مادو پر بنسټ.**

**د دی کار د اجازی پر بنسټ، حق لری چه کار وکړی او یا تعلیم او د کسب زدکړی په مخ یوسی او هم ځان ته مستقل مشغولیت و ټاکی . د مستقل مشغولیت د پاره ، دایماً نورو موافقو او تصدیقونو ته اړ یاست، پدی باب د یوی مشورتی ځای څخه معلومات تر لاسه کړی.**
ستاسی د اقامت پر اجازه باندی داسی لیکل سوی:

”د مشغولیت اجازه لری“

**۲ - د اقامت اجازه د قانون د ۲۲ ماده، فقره ۱، ۲۳ ماده، فقره ۱، ۲۳ آ، ۲۴، ۲۵مادی ، فقره ۳ ، ۴ ، ۴ آ ، ۴ ب ، ۵ ، ۲۵ آ فقره ۱ او ۲ د اقامت د قانون پر بنسټ.**

ددی اقامت د اجازی پر بنسټ، کولای سی چه هر کار او د تعلیم او کسب د زدکړی ته پیل کړی خو په فوری ډول نسی مستقل کیدای. **ددی د پاره د خارجیانو د پاره د دولتی اداری مأمورانو ته ورسی، او ځانته ضمیمه اجازه چه**

” مشغولیت اجازه لری“

**د خپل اقامت اجازی باندی د لیکلو غوښتنه وکړی.**

غواړی چه مستقل وسی، بایده ده چه ددی کار د پاره د خارجیانو د پاره د دولتی اداری مأمورانو ته د غوښتنی درخواستی ورکړکړی.

Netzwerk IntegrationNetwIn 2.0

caritas

ناشر: اتحادیه

Caritasverband für die
Diözese Osnabrück e.V.
Dr. jur. Barbara Weiser
Knappsbrink 58
49080 Osnabrück
Email: bweiser@caritas-os.de